بسم الله الرحمن الرحيم.

**دکتاب لوستلو ملي طرحه**

(ازمایینتي او دايمي طرحه)

مونږ ته مه وايی چې د لوستلو کلتور نشته، له ځانه يې پيل کړئ چې د لوستلو کلتور بنسټيز شي .

**داکتر منصور مجاب .**

کال: ۱۴۰۰ /۷/ ۱۰

سريزه

د لوستلو د ګټو په اړه ډېره يادونه نه کوو يوازې په دې بسنه کوو چې وروسته له دې لوستل او نه لوستل سره يو نه دي فقط پوهه توانايي بلل کيږي ځکه د مطالعې کولو په ګټه او ارزښت ټول خلک پوهيږي اما بد بختانه زمونږ په ټولنه کې له مخکې نه د پوهې او لوستلو په اړه يو ډول پټه ټنبلې شتون درلوده او لري يې، حتې په غوره او ښو شرايطو کې خلک ځېل اضافي وخت په داسې کړنو تيروي چې هغه کړنې د دوی په ژوند کې هيڅ ارزښت نه لري او د دوی ژوند داسې کړنو ته هيڅ اړتيا نه لري همدارنګه د اکړنی د دوی په ژوند کی هيڅ مثبت تغير نه راولي اکثره خلک بې لدې نه چې کوښښ وکړي کتاب ولولي با کيفيته او بې له ستونزو ژوند غواړي، نو که غواړو چې ښه ژوند ولرو بايد لوستل او مطالعه په ژوند کې د يو اړين ځيز په توګه وپيژنو. ستونزمنه به نه وي چې د علم او پوهې له نړی سره د لوستلو او مطالعې له لارې بلد شو او ځېل فکر ته وده ورکړو او خپلو ټاکلو موخو ته په آسانی سره ورسيږو.

ژوندي پاتې کيدل غوره او بشپړې غذا ته اړتيا لري، د هرې ټولنې د کلتور د ژوندي پاتې کيدو غذا کتاب او لوستنه ده، بې له مطالعې او لوستنې د ټولنې کلتور مړاوی کيږي او مري، د لوستنې او مطالعې عامول او رواجول د هر هيواد د ملي ترقی او پرمختيا ښکارندويي کوي، له بده مرغه زمونږ په هيواد کې د مطالعې کچه به ډير ټيټ حد کې ده او کتابونو ته به هغه اندازه چې لازمه ده پاملرنه نه کيږي [illegible] خلکو [illegible] او بايد [illegible] دې برخه کې پانګه اچونه وکړي، او [illegible] د ګټو [illegible] ته [illegible]

همدارنګه د کتاب لوستنې د مينه والو د زياتونې په موخه بايد د کتابونو ټول اړوند کارکوونکي لکه ليکونکي، ژباړونکي کتاب پلورونکی يو له بل سره نيږدی پاتې شي او د کتاب امانت اخيستلو، کتابتون ته د تګ او د کتابونو د توزيع لپاره يو له بله سره مرسته او همکاری وکړي، تر ځو وکولای شي د مطالعې او کتاب لوستنې کلتور په ټولنه کې عام او يوی پايلې ته ورسيږي.

دې موخې ته د رسيدو لپاره او د کتاب لوستنې د کلتور د عامولو لپاره يوې جامع او ټول منلې طرحې ته اړتيا ده چې دهغې په مرسته په افغاني ټولنه کې د کتاب لوستنې او مطالعې فرهنګ او کلتور عام او پلی شي، که دغه کړنې په ريښتينولی سره تر سره نه کړو او تر ځو نورو کلونو په دی نړی کې اغيزمن تمام نه شو زمونږ زدکړی اونيم ګړي مهارتونه به بی فايدې وي او کارونه به د رباتونه په واسطه تر سره کيږي اومونږ به!!!

- د نورو د تجربو او ځيرنو لپاره استفاده کيږو!
- د جنسی ابزارو په توګه به رانه کار اخيستل کيږي!
- د نړيوالو قدرتونو د جنګ د سوند توکي به کيږو!
- تر دې به نور هم غريب او فقير کيږو!

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ټول باید مطالعه وکړو، لوستنه وکړو په تیر وخت کې ژوند ونه کړو، په بې ارزښته کړنو خپل مادي او معنوي ارزښتونه ضایع نه کړو، په خپل منځ کې شریک ټکي پیدا کړو، یو له بله سره خپلې لاسته راوني شریکې کړو او یو بل ته په حیثیت ورکړو، موخه ولرو نه هیلې، هیلې او موخې سره توپیر لري، هیله یعنې هغه څه ته رسیدل چې نه یې لرو خو موخه ټاکلې د اندازې وړ پایله ده چې وګړي غواړي په ځانګړي او ټاکلې وخت کې ورته ورسیږي. ډېرځله مونږ موخې او هیلې سره ګډوو هیلې انسان له واقعیتونو لرې ساتي او د انسانانو ذهنونه تړي نو غوره ده چې له هیلو کولو ځان وساتو.

موخه په لغت کې نښې ته ویل کیږي، او په اصطلاح کې هغه څه دي چې خلک او اداري یې له عمل کولو مخکې په نظر کې نیسي او دهغه د ترلاسه کولو لپاره لازم وسایل او توانایي په کار اچوي ترڅویې تر لاسه کړي.

د مطالعې او لوستنې د طرحې مادې

لومړی ماده: مسؤلین او اړوند نهادونه باید دکارکوونکو او وګړو په منځ کې د مطالعې د اړتیا احساس پیدا کړي.

- ټولو کارکوونکو ته سپارښتنه وشي چې خپل کلني معلومات نوي او اپډیټ کړي.
- لومړی خبرې باید هغه کسان وکړي چې مطالعه کوي او تقوا ولري.
- کتاب لوستنه باید د انسانیت یو معیار وبلل شي.
- لوستونکو او مطالعه کوونکو ته مادي او معنوي ډالۍ ورکړل شي.

دویمه ماده: له دې وروسته باید د افغانستان ټول وګړي قران کریم، احادیث او ټول مذهبي کتابونه په ژباړه او تفسیر ولولي او یا یې واوري.

- په دې کار سره د افغانستان وګړي کولای شي د قران کریم لارښوني په واقعي توګه درک کړي.
- د قران کریم او احادیثو ژباړه او تفسیر باید په غړیزه توګه خلکو ته برابر شي.
- امامان باید په ختمونوکې د قران کریم ژباړه ولولي او ژباړې ته یې پاملرنه وکړي.
- قران کریم، احادیث او نور مذهبي کتابونه باید دهیواد په مروجو ژبو په خپرونو اوکتابتونونوکې شتون ولري.

دریمه ماده: په هره اونۍ، هرو پینځلس ورځو او یا هم هرو دیرشو ورځو کې د کتاب حجم او اهمیت ته په کتو سره د هیواد د لومړي شخص او یا د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا خلکو ته یو کتاب د مطالعې او لوستنې په موخه اعلان او خلکو ته ور وپیژندل شي.

- هره شپه یو ځانګړي وخت په استثنا د روژې د میاشتې د مطالعې لپاره د تلویزیون له لارې اعلان او وټاکل شي چې پینځه دقیقې او یا لس دقیقې د مطالعې او لوستنې وخت دی، کتاب ولولی او د ماشومانو کورنی دندې مو وګورئ.
- کوم کتابونه چې اعلانیږي باید د پڅې اچونې له لارې وټاکل شي، د مثال په توګه هر کال باید سل کتابونه وټاکل شي اود هغه له جملې یو یو په نوبت هیوادوالو ته د لوستنې په موخه ور وپیژندل شي.
- اعلان شوی او ټاکل شوی کتاب باید د هیواد په مروجو ژبو لیکل شوی او یا ژباړل شوی وي.
- خپرونکې اداري باید هغه کتاب د هیواد هرې سیمې او ولسوالی ته ورسوي او اړونده اداري یې په رسولو کې اسانتیاوې رامنځ ته کړي.
- په جماعتونو، تکیه خانو، مدرسو، مکتبونو... او پوهنتونونو کې د کتابونو په اړه اعلانونه وشي او د کتابونو د موضوعاتو په هکله جدي بحثونه وشي.
- د انځوریزو، غږیزو او لیکنیو رسنیو له لارې د کتابونو د مطالعې په اړه اعلانونه وشي، د لیکوالانو او د نظر وړ کسانو سره په دې برخه کې بحثونه وشي.
- ټاکل شوی کتاب باید د امکان ترحده په الکترونیکي بڼه هم شتون ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• د کتاب قیمت باید داسي وټاکل شي چي ټول خلک یې په اسانی وپیري.

• ټاکل شوی کتاب باید د خلکو په منځ کي د معتبري ډالی په توګه وپیژندل شي.

• نوموړی کتاب باید په ټولو بحثونو او هغه ځایونو کي چي خلک بی ځایه خبري کوي او غیبتونه کوي، د خلکو د خبرو او دخلکو په ژبه راوړل شي.

• د بی سواده وګړو لپاره باید کتاب په غږیزه توګه برابر شي ترڅو هیچاته د نه لوستلو بهانه پاتي نه شي.

• د ترانسپورت له وزارت څخه وغوښتل شي چي ټولو ډریورانو ته وواییي چي ټاکل شوی کتاب د سندرو په ځای په موټر کي په خلکو واوروي.

څلورمه ماده: ټول زده کړه ئیز مرکزونه باید په کال کي یو ځل، دوه ځلي او یا هم دري ځلي د کتابونو نندارتون جوړ کړي.

• د دوی په دي کارسره زده کوونکي له نوو پرمختګونو خبریږي او د دوی په رسمي درسونو مثبته اغیزه کوي.

• ددي کار ترسره کول ډیر آسانه دي، یوازي د خپروندویو ټولنو او کتابتونونو سره په همغږی کولای شي دغه اغیزمن کار ترسره شي او زده کړه ئیز مرکزونه یوازي ځای ورکړي او د ښودلو شرایط ورته برابر کړي.

پینځمه ماده: بزګران باید حتماً د کرني ( تخم، کرلو، د نباتاتو د ناروغیو، حاصل ټولولو او د حاصلاتو د وړاندي کولو... په اړه کتاب ولولي او یا یي واوري.

• بزګران باید له دي وروسته په تصادفي توګه له کرلو لاس واخلي او لیکوالان باید په اړونده برخه کي کتابونه ولیکي چي د بزګرانو لپاره اړین او ګټور تمام شي.

• د بزګرانو اړوند کتاب باید په لیکنی او غږیزه توګه برابر شي.

• هر کال د بزګرانو تجربي د کتابونو او مجلو له لاري یوله بل سره شریکي شي.

شپږمه ماده: زمونږ هغه هیوادوال چي له یوځایه بل ځای ته سفر کوي باید پینځه او یا هم لس افغانی د ورځپاڼو په اخیستلو ورکړي.

• په دي توګه د ورځپاڼي لوستول کلتور عامیږي او پیاوړی کیږي.

• سفر کوونکی حتما له یوي موضوع خبریږي او هغه یادوي.

• په دي توګه ډیری کسان د کار څښتنان کیږي.

اوومه ماده: په هوټلونو، دفترونو، پوستو، شپه غالو او نورو ځایونو کي د ډوډی پخوونکي(آشپزان)، باید د غذا پخوني په اړه کتابونه ولولي او یا یي هم واوري.

• په دي توګه کولای شي د ډوډی او غذایی موادو له ضایع کیدو مخنیوی وشي.

• په دي توګه کیدالای شي د تقلبي او تاریخ تیرو او غیر صحي غذایی موادو مخنیوی وشي.

• دا کار کولای شي د سؤتغذیي او یا چاغوالي څخه تر یوي اندازي مخنیوی وکړي.

• کوم کتاب چي په دغه برخه کي لیکل کیږي باید د څو بنسټونو لکه روغتیا وزارت ، مالیي وزارت او نورو له خوا تایید شوی وي.

اتمه ماده: محصلین چي له پوهنتونونو څخه فارغیږي باید حتماً د عامه اداري په برخه کي یو کتاب ولولي.

نهمه ماده: د بهرته تلونکو او داخلي محصلینو مونوګرافونه باید له عامو وګړو سره شریک شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• ددې کار لپاره باید یو ټاکلی فزیکي او الکترو نیکي ادرس رامنځ ته شي چې ټول مونوګرافونه په هغه کې ترتیب او تنظیم شي او خلکو ته ورسیږي.

• د مونوګرافونو د کارونو او مهم موضوعات باید په یو کتاب کې راټول او چاپ شي چې خلک ورنه اسانه ګټه پورته کړي.

لسمه ماده: په کلني توګه او یا هم په دوو کلونو کې په شرایطو برابرو د هیواد ټولو خلکو ته په مختلفو عنوانونو کورنۍ دندې ورکړل شي او د کورنۍ دندې ترسره کوونکو ته جایزې ورکړل شي.

• په دې توګه د هیواد ټول وګړي پلټونکي او فعال ساتل کیږي.

• که د هیواد ټولو وګړو ته د کورنۍ دندو ورکولو امکانات نه وي کیدای شي د کلیو، ولسوالیو او ولایتونو په سطحه دغه کړنه ترسره کړو، دبیلګې په توګه یوې ولسوالۍ یا ولایت ته د طبیعي آفتونو څخه ساتنه او بلې ولسوالۍ یا ولایت ته د شخړو د حل په اړه موضوع ورکړل شي.

• په دې توګه کولای شو د ټول هیواد له فکر او نظریاتو څخه خبر شو او د ستونزو په حل کې ور څخه ګټه پورته کړو.

یوولسمه ماده: ټول دولتي مامورین چې په کومه برخه کې کار کوي په کلني توګه باید په هغه برخه کې کتاب ولولي.

• په دې کار سره ټول مامورین فعال او اپډیټ ساتل کیږي.

• په دې کار سره دولتي مامورین له پرمختګونو خبریږي.

• ددې کړنې د ترسره کولو په موخه باید هر مامور ته کتاب ډالۍ شي او یا هم کتاب ورته واخیستل شي.

• د غم او ښادۍ په ټولو حکومتي پروګرامونو کې باید د کتاب نندارتون پرانیستل شي.

دوولسمه ماده: خبریالان او مصاحبه کوونکي باید له چارواکو نه په هره مصاحبه کې یو یا دوه پوښتنې د کتاب د مطالعې او دهغه د ارزښت په اړه وکړي او مسؤلین پرې نږدې چې عادي ځواب ووايي.

• د داسې پوښتنو په وړاندې کولو سره مسولین اړکیږي چې کتابونه ولولي او مطالعه وکړي.

• عام خلک کتاب لوستنې ته اړ کیږي.

• په دې کار سره ټولنې ته ښه انځور وړاندې کیږي.

دیارلسمه ماده: د اوس لپاره باید په کتاب، کاغذ، کتابتون او د کتابونو په ترانسپورت مالیه وا نه اخیستل شي او که اخیستل کیږي هم له زیاتې مهربانۍ باید کار واخیستل شوي.

• په دې کار سره د کتابونو اړوند کارونه په زیات شوق او ذوق سره مخ ته ځي.

• په دې کار سره په کتاب مناسب قیمت ایښودل کیږي.

• ډیرى خلک په دې برخه کې پانګه اچونه کوي.

څوارلسمه ماده: کتابتونونه باید د غیر درسي کتابونو امانت ورکولو سهولتونه رامنځ ته کړي او د ټاکلو پیسو په مقابل کې کتابونه خلکو ته امانت ورکړي.

• په دې کار سره خلک کولای شي زیات کتابونه به اسانۍ سره ولولي.

• په دې برخه کې د کتاب څښتنان باید د امانت ورکولو ځانګړي شرایط کیږدي، دا کار دکتابتونونو د خاوندانو په ګټه دی ځکه کیدای شي یو کتاب ورته زیاته ګټه وکړي له دې لارې زیاتې پیسې تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پينځلسمه ماده: ليکوالان بايد د خپلو هيوادوالو د عامه پوهاوي په خاطر په خپل منځ کې ښې اړيکې را منځته کړي اود بهرنيو ليکوالانو سره تل د تجربو د انتقال لپاره په اړيکه کې وي.

• دا ماده ددې لپاره په دې طرحه کې ځای په ځای شوې چې ډيرى لکيوالان مو د مختلفو ادرسونو له خوا په مختلفو ټولګيو ويشل شوي او د هيواد د ملي ګټو پر اساس ريښتيني لار نه تعقيب کوی.

• ليکوالانو ته بايد د اړيکو وسايل لکه انټرنيټ، کريډيټ، ساختمان، دفتر او ترانسپورټ په وړيا ډول بې له کومې معاملې برابر شي.

شپاړسمه ماده: ټول هغه محصلين چې نورو هيوادونو ته د زده کړې په موخه ځي د ټولنې په عامه افکارو کې د غير رسمي سفيرانو په توګه وپيژندل شي او د رسمي سفيرانو سره څنګ په څنګ دهغه هيوادنو فکرونه او تجربې په ليکلې توګه خپل هيواد ته انتقال کړي.

• دغه کړنې ته د ځانګړې بوديجه په نظر کې ونيول شي.

• په دې کار سره سفيران او محصلين فعال ساتل کيږي.

• کومې تجربې چې له دوی څخه تر لاسه کيږي بايد د خلکو سره شريکې شي لکه ( معلم، تجار، کسب کار... او د ټولنې له نورو قشرونو سره).

اولسمه ماده: هره نجلۍ او هلک چې غواړي خپل ګډ ژوند پيل کړي بايد د ګډ ژوند په اړه يو کتاب ولولي.

• اړوند کتاب بايد د ژوند د ښو او بدو تجربو لرونکی وي.

• د نکاح د عقد پر مهال او يا هم له رسمی اورګانونو څخه د نکاح خط د اخيستلو پر مهال د کتاب د لوستلو پوښتنه حتماً وشي.

• دغه جوړې بايد د خپل ګډ ژوند د پيل، وسط او د ژوند آخری ګډې تجربې چې دوی مناسبې بولي وليکي.

• همدغه کورنی کله چې د اولاد خاوندان کيږي بايد د اولادونو د تربيې په اړه يو کتاب ولولي او تر ډيره حده په هغه عمل وکړي.

اتلسمه ماده: ټول حاجيان چې د حج د مراسمو او يا هم کربلا زيارت کولو ته ځي لږ تر لږه پنځوس کتابونه بايد د ډالی په توګه خپلو کليوالو ته راوړي او توزيع يې کړي.

• دا کړنه ډيره په اسانی پلي کيږي.

• حاجي صاحبان دکلي ستونزو ته په کتو سره کولای شي کتابونه وټاکي او خلکو ته يې ورکړي.

نولسمه ماده: دغه طرحه د لويانو او مسؤلينو سپارښتنو ته په کتو سره د تغير وړ ده خو نه پلي کيدل او د نه پلی کيدو په اړه يې شرايط په هيڅ وجه د منلو وړ نه دي. ددغه طرحې پلي کوونکي په ريښتيني توګه د ټولنې خدمت کوونکي شميرل کيږي، او هغه کسان چې ددې طرحې د مخنيوي سبب کيږي تر ټولو بې مسؤليته خلک به وي.

• يوازې ددې طرحې په اعلان سره به ډيری خلک له دغې طرحې حمايت وکړي.

• که مسؤلين دغه طرحه عملي نه کړي خپلو هيوادوالو ته به مراجعه وکړم او ددغه طرحې په عملي کولو او نشر کولو کې به ورنه مرسته وغواړم تر څو وکولای شو څومره چې کيږي دغه طرحه عملي کړو.

شلمه ماده: ټول ښاريان او هيوادوال بايد د پيژندل شوو کتابونو ترڅنګ يو يوکتاب د ډوډی، خوب، لوبو او ورزش، د ژوند لاربښوونو، لومړنی مرستو، د اوبو، برق، پيسو، وخت ... او نور د صرفه جويی ، د ښارې فرهنګ او نور چې شمير يې تر سلو زياتو کتابونو ته رسيږي ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• دغه کتابونه د هیواد د لیکوالانو له خوا باید ولیکل شي او یا هم وژباړل شي او د خپرندویو ټولنو په واسطه خپاره او چاپ شي.

• دغه کتابونه باید په ټولنه کې د خلکو په منځ کې معتبر وبلل شي، د خلکو په منځ کې د غوره ډالی په توګه ومنل شي.

• ښاریان او هیوادوال باید د امامانو، ښوونکو او استادانو له خوا د نوموړو کتابونو لوستنې ته تشویق شي.

• د هیواد رسنی باید د نومړو کتابونو د موضوعاتو په باره کې بحثونه وکړي.

د مطالعې او لوستنې د ملي طرحې د شرایطو برابرول

له نیکه مرغه د کتاب لوستنې د ملي طرحې لپاره ټول شرایط برابر دي او یا هم په ډیرو کمو هڅو برابریدلای شي، د اوس لپاره منظم اداري سیستم، ډیری باسواده خلک، لیکوالان، ژباړونکي، چاپ خوني، کتابتونونه، رسنی، کاغذ، قلم، او نورې ټولې سرچینې لرو چې کولای شو ددغه طرحې په عملي کولو کې ورڅخه ګټه پورته کړو، ددغې طرحې په پلي کولو سره کولای شو نوی نسل په داسې ډول وروزو چې خپله لاره په خپله وټاکي او د پردیو افکارو تر اثر لاندې را نه شي ددې طرحې په پلي کولو سره راتلونکی نسل کولای شي خپله لاره په خپله پیدا کړي او هغه زهر چې د پردیو له خوا د دوی په افکارو کې ګډیږي ترې مخنیوی وشي، نن ورځ په مونږ کې کمی شتون لري او پردیو ته مو موقع ورکړې ده تر څو زمونږ د نوي نسل سرنوشت وټاکي، له دغه حالته د وتلو لپاره یوې طرحې ته اړتیا ده چې خلک زیاتو معلوماتو او پوهې ته لاره ومومي، ددغې طرحې په پلي کولو سره کولای شو راتلونکي نسل ته د کتاب او کتاب لوستنې ارزښتونه منتقل کړو ځکه چې تر اوسه زمونږ ډیری وګړي د پوهې ترلاسه کولو په موخه کتاب نه لولي بلکه د پیسو د لاسته راوړلو په موخه کتاب لولي او ډیری کسان فکر کوي چې لوړ موقف ته رسیدل په پیسو او واسطه ترلاسه کیږي، نو ولې باید کتاب ولولو دې حالت زمونږ عام خلک او محصلین له کتاب لوستلو زړه توري کړي دي.

په حقیقت کې د علم زده کړه او کتاب لوستل د پوهې ترلاسه کولو لپاره دي نه د پیسو پیدا کولو لپاره. زموږ خلک باید د پوهې او کتاب لوستنې په اړه په خپل فکر کې ژور بدلون راولي او کتابونه د پوهې زیاتولو په موخه ولولي نه د پیسو ګټلو لپاره.

د کتاب لوستنې د ملي طرحې د پلي کولو پایلې

ددغې طرحې پلي کونکې اداري لپاره په لومړیو کې یو څه مادي مصارفو ته اړتیا ده خو له دریو کلونو وروسته اړونده اداره په یوه پرنفوذه او د مادي او معنوي تولیداتو په سرچینه بدلیږي اوټولو بنسټونو او خلکو ته یې لاندې ګټې رسیږي:

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل د خلکو د عمومي پوهې د زیاتیدو سبب کیږي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل د خلکو د ستونزو د حل او روزنې سبب کیږي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل د هیواد والو د مغزي ودې او فعالیت سبب کیږي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل د خلکو استدلال د پیاوړتیا، د ستونزو حل او د خلکو د نوښتونو سبب کیږي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل په خلکو کې د الزایمر (هیرېدنې) او نورو مغزي ناروغیو د مخنیوي سبب کیږي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل په ټولنه کې د وګړو د ځانګړو او ټولنیزو فعالیتونو د زیاتیدو سبب کیږي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل د ځان پیژندنې سبب کیږي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل د خدای(ج) پیژندنې او د خلکو د معنوي پوهې د زیاتوالي سبب کیږي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل د ټولنې د کلتوري ودې او پرمختګ سبب کیږي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدلو تر ټولو مهمه ګټه د خلکو د بیلابیلو نظریاتو رامنځ ته کیدل دي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل د خلکو موخو ته د رسیدو سبب کیږي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلي کیدل خلکو ته د ژوند کولو هنر ورزده کوي.

• د کتاب لوستنې او مطالعې ملي طرحه له خلکو ښه ویندویان او غوره ناطقان جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• د کتاب لوستني او مطالعې د ملي طرحې پلي کيدل د خلکو د اشتباهاتو د کميدلو سبب کيږي.

• د کتاب لوستني او مطالعې د ملي طرحې پلي کيدل په خلکو کې په نفس د باور سبب کيږي.

• د کتاب لوستني او مطالعې ملي طرحه پلي کيدل د نړۍ د ژورې پيژندنې او د بشريت د بشپړتيا سبب کيږي.

• د کتاب لوستني او مطالعې د ملي طرحې پلي کيدل د هيواد په ادارو د فشار او بيرو بار د کموالي سبب کيږي.

و من الله توفيق

۱۴۰۰ / ۷ / ۱۰دوستانو طرحه ولولی او نظر مو راسره شريک کړی!

مننه او درناوی

بسم تعالی

دکتاب لوستلو ملي طرحه

(ازماېښتي او دايمي طرحه)

مونږ ته مه وايی چې د لوستلو کلتور نشته، له ځانه يې پيل کړئ چې د لوستلو کلتور بنسټيز شي

داکتر منصور مجاب

د ذهنيت جوړوني مرکز مسؤل

کال: ۱۴۰۰ /۷/ ۱۰

سريزه

د لوستلو د ګټو په اړه ډېره يادونه نه کوو يوازې په دې بسنه کوو چې وروسته له دې لوستل او نه لوستل سره يو نه دي فقط پوهه توانايي بلل کيږي ځکه د مطالعې کولو په ګټه او ارزښت ټول خلک پوهيږي اما بد بختانه زمونږ په ټولنه کې له مخکې نه د پوهې او لوستلو په اړه يو ډول پټه تنبلي شتون درلوده او لري يې، حتي په غوره او ښو شرايطو کې خلک خپل اضافي وخت په داسې کړنو تيروي چې هغه کړنې د دوی په ژوند کې هيڅ ارزښت نه لري او د دوی ژوند داسې کړنو ته هيڅ اړتيا نه لري همدارنګه د اکړنی د دوی په ژوند کی هيڅ مثبت تغير نه راولي اکثره خلک بې لدې نه چې کوښښ وکړي کتاب ولولي با کيفيته او بې له ستونزو ژوند غواړي، نو که غواړو چې ښه ژوند ولرو بايد لوستل او مطالعه په ژوند کې د يو اړين ځيز په توګه وپيژنو. ستونزمنه به نه وي چې د علم او پوهې له نړۍ سره د لوستلو او مطالعې له لارې بلد شو او خپل فکر ته وده ورکړو او خپلو ټاکلو موخو ته په آسانی سره ورسيږو.

ژوندي پاتې کيدل غوره او بشپړې غذا ته اړتيا لري، د هرې ټولنې د کلتور د ژوندي پاتې کيدو غذا کتاب او لوستنه ده، بې له مطالعې او لوستني د ټولنې کلتور مړاوی کيږي او مري، د لوستني او مطالعې عامول او رواجول د هر هيواد د ملي ترقی او پرمختيا ښکارندويې کوي، له بده مرغه زموږ په هيواد کې د مطالعې کچه په ډير ټيټ حد کې ده او کتابونو ته په هغه اندازه چې لازمه ده پاملرنه نه کيږي، مطالعې او لوستني ته د خلکو هڅول د دولت له مهمو دندو څخه شميرل کيږی او بايد په دې برخه کې پانګه اچونه وکړي، او د ټولنې ټول وګړي د ګټورو او اړينو معلوماتو د ترلاسه کولو په لوري بوځي.

همدارنګه د کتاب لوستني د مينه والو د زياتوني په موخه بايد د کتابونو ټول اړوند کارکوونکي لکه ليکونکي، ژباړونکي کتاب پلورونکی يو له بل سره نيږدې پاتې شي او د کتاب امانت اخيستلو، کتابتون ته د تګ او د کتابونو د توزيع لپاره يو له بله سره مرسته او همکاری وکړي، تر څو وکولای شي د مطالعې او کتاب لوستني کلتور په ټولنه کې عام او يوې پايلې ته ورسيږي.

دې موخې ته د رسيدو لپاره او د کتاب لوستني د کلتور د عامولو لپاره يوې جامع او ټول منلې طرحې ته اړتيا ده چې دهغې په مرسته په افغاني ټولنه کې د کتاب لوستني او مطالعې فرهنګ او کلتور عام او پلی شي، که دغه کړنې په رينښتينولی سره تر سره نه کړو او تر څو نورو کلونو په دی نړی کې اغيزمن تمام نه شو زمونږ زدکړی اونيم ګړې مهارتونه به بی فايدې وي او کارونه به د رباتونه په واسطه تر سره کيږي اومونږ به!!!

• د نورو د تجربو او څيرنو لپاره استفاده کيږو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

• د جنسي ابزارو په توګه به رانه کار اخيستل کيږي!

• د نړيوالو قدرتونو د جنګ د سوند توکي به کيږو!

• تر دې به نور هم غريب او فقير کيږو!

نو ټول بايد مطالعه وکړو، لوستنه وکړو په تير وخت کې ژوند ونه کړو، په بې ارزښته کړنو خپل مادي او معنوي ارزښتونه ضايع نه کړو، په خپل منځ کې شريک ټکي پيدا کړو، يو له بله سره خپلې لاسته راوني شريکې کړو او يو بل ته په حيثيت ورکړو، موخه ولرو نه هيلې، هيلې او موخې سره توپير لري، هيله يعني هغه څه ته رسيدل چې نه يې لرو خو موخه ټاکلې د اندازې وړ پايله ده چې وګړي غواړي په ځانګړي او ټاکلي وخت کې ورته ورسيږي. ډېرځله مونږ موخې او هيلې سره ګډوو هيلې انسان له واقعيتونو لرې ساتي او د انسانانو ذهنونه تړي نو غوره ده چې له هيلو کولو ځان وساتو.

موخه په لغت کې نښې ته ويل کيږي، او په اصطلاح کې هغه څه دي چې خلک او اداري يې له عمل کولو مخکې په نظر کې نيسي او دهغه د ترلاسه کولو لپاره لازم وسايل او توانايي په کار اچوي ترڅويې تر لاسه کړي.

د مطالعې او لوستنې د طرحې مادې

لومړۍ ماده: مسؤلين او اړوند نهادونه بايد دکارکوونکو او وګړو په منځ کې د مطالعې د اړتيا احساس پيدا کړي.

• ټولو کارکوونکو ته سپارښتنه وشي چې خپل کلني معلومات نوي او اپډيټ کړي.

• لومړی خبرې بايد هغه کسان وکړي چې مطالعه کوي او تقوا ولري.

• کتاب لوستنه بايد د انسانيت يو معيار وبلل شي.

• لوستونکو او مطالعه کوونکو ته مادي او معنوي ډالۍ ورکړل شي.

دويمه ماده: له دې وروسته بايد د افغانستان ټول وګړي قران کريم، احاديث او ټول مذهبي کتابونه په ژباړه او تفسير ولولي او يا يې واوري.

• په دې کار سره د افغانستان وګړي کولای شي د قران کريم لارښوني په واقعي توګه درک کړي.

• د قران کريم او احاديثو ژباړه او تفسير بايد په غړيزه توګه خلکو ته برابر شي.

• امامان بايد په ختمونوکې د قران کريم ژباړه ولولي او ژباړې ته يې پاملرنه وکړي.

• قران کريم، احاديث او نور مذهبي کتابونه بايد دهيواد په مروجو ژبو په خپرونو اوکتابتونونوکې شتون ولري.

دريمه ماده: په هره اونۍ، هرو پينځلس ورځو او يا هم هرو ديرشو ورځو کې د کتاب حجم او اهميت ته په کتو سره د هيواد د لومړي شخص او يا د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا خلکو ته يو کتاب د مطالعې او لوستنې په موخه اعلان او خلکو ته ور وپيژندل شي.

• هره شپه يو ځانګړي وخت په استثنا د روژې د مياشتې د مطالعې لپاره د تلويزيون له لارې اعلان او وټاکل شي چې پينځه دقيقې او يا لس دقيقې د مطالعې او لوستنې وخت دی، کتاب ولولی او د ماشومانو کورنی دندې مو وګورئ.

• کوم کتابونه چې اعلانيږي بايد د پچې اچونې له لارې وټاکل شي، د مثال په توګه هر کال بايد سل کتابونه وټاکل شي اود هغه له جملې يو يو په نوبت هيوادوالو ته د لوستنې په موخه ور وپيژندل شي.

• اعلان شوی او ټاکل شوی کتاب بايد د هيواد په مروجو ژبو ليکل شوی او يا ژباړل شوی وي.

• خپرونکي اداري بايد هغه کتاب د هيواد هرې سيمې او ولسوالی ته ورسوي او اړونده اداري يې په رسولو کې اسانتياوې رامنځ ته کړي.

• په جماعتونو، تکيه خانو، مدرسو، مکتبونو... او پوهنتونونو کې د کتابونو په اړه اعلانونه وشي او د کتابونو د موضوعاتو په هکله جدي بحثونه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• د انځوريزو، غږيزو او ليکنيو رسنيو له لارې د کتابونو د مطالعې په اړه اعلانونه وشي، د ليکوالانو او د نظر وړ کسانو سره په دې برخه کې بحثونه وشي.

• ټاکل شوی کتاب بايد د امکان ترحده په الکترونيکي بڼه هم شتون ولري.

• د کتاب قيمت بايد داسې وټاکل شي چې ټول خلک يې په اسانی وپيري.

• ټاکل شوی کتاب بايد د خلکو په منځ کې د معتبرې ډالی په توگه وپيژندل شي.

• نوموړی کتاب بايد په ټولو بحثونو او هغه ځايونو کې چې خلک بی ځايه خبرې کوي او غيبتونه کوي، د خلکو د خبرو او دخلکو په ژبه راوړل شي.

• د بې سواده وگړو لپاره بايد کتاب په غږيزه توگه برابر شي ترڅو هيچاته د نه لوستلو بهانه پاتې نه شي.

• د ترانسپورت له وزارت څخه وغوښتل شي چې ټولو ډريورانو ته ووايي چې ټاکل شوی کتاب د سندرو په ځای په موټر کې په خلکو واوروي.

څلورمه ماده: ټول زده کړه ئيز مرکزونه بايد په کال کې يو ځل، دوه ځلې او يا هم درې ځلې د کتابونو نندارتون جوړ کړي.

• د دوی په دې کارسره زده کوونکي له نوو پرمختگونو خبرېږي او د دوی په رسمي درسونو مثبته اغيزه کوي.

• ددې کار ترسره کول ډير آسانه دي، يوازې د خپروندويو ټولنو او کتابتونونو سره په همغږی کولای شي دغه اغيزمن کار ترسره شي او زده کړه ئيز مرکزونه يوازې ځای ورکړي او د ښودلو شرايط ورته برابر کړي.

پينځمه ماده: بزگران بايد حتماً د کرنې ( تخم، کرلو، د نباتاتو د ناروغيو، حاصل ټولولو او د حاصلاتو د وړاندې کولو... په اړه کتاب ولولي او يا يې واوري.

• بزگران بايد له دې وروسته په تصادفي توگه له کرلو لاس واخلي او ليکوالان بايد په اړونده برخه کې کتابونه وليکي چې د بزگرانو لپاره اړين او گټور تمام شي.

• د بزگرانو اړوند کتاب بايد په ليکنی او غږيزه توگه برابر شي.

• هر کال د بزگرانو تجربې د کتابونو او مجلو له لارې يوله بل سره شريکې شي.

شپږمه ماده: زمونږ هغه هيوادوال چې له يوځايه بل ځای ته سفر کوي بايد پينځه او يا هم لس افغانی د ورځپاڼو په اخيستلو ورکړي.

• په دې توگه د ورځپاڼې لوستول کلتور عاميږي او پياوړی کيږي.

• سفر کوونکی حتما له يوې موضوع خبريږي او هغه يادوي.

• په دې توگه ډيری کسان د کار څښتنان کيږي.

اوومه ماده: په هوټلونو، دفترونو، پوستو، شپه غالو او نورو ځايونو کې د ډوډی پخوونکي(آشپزان)، بايد د غذا پخونې په اړه کتابونه ولولي او يا يې هم واوري.

• په دې توگه کولای شي د ډوډی او غذايی موادو له ضايع کيدو مخنيوی وشي.

• په دې توگه کيدالای شي د تقلبې او تاريخ تيرو او غير صحي غذايی موادو مخنيوی وشي.

• دا کار کولای شي د سؤتغذيې او يا چاغوالې څخه تر يوې اندازې مخنيوی وکړي.

• کوم کتاب چې په دغه برخه کې ليکل کيږي بايد د څو بنسټونو لکه روغتيا وزارت ، ماليې وزارت او نورو له خوا تاييد شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتمه ماده: محصلین چي له پوهنتونونو څخه فارغیږي باید حتماً د عامه اداري په برخه کي یو کتاب ولولي.

نهمه ماده: د بهرته تلونکو او داخلي محصلینو مونوګرافونه باید له عامو وګړو سره شریک شي.

• ددې کار لپاره باید یو ټاکلی فزیکي او الکترو نیکي ادرس رامنځ ته شي چي ټول مونوګرافونه په هغه کي ترتیب او تنظیم شي او خلکو ته ورسیږي.

• د مونوګرافونو د کارور او مهم موضوعات باید په یو کتاب کي راټول او چاپ شي چي خلک ورنه اسانه ګټه پورته کړي.

لسمه ماده: په کلني توګه او یا هم په دوو کلونو کي په شرایطو برابرو د هیواد ټولو خلکو ته په مختلفو عنوانونو کورنی دندې ورکړل شي او د کورنی دندې ترسره کوونکو ته جایزې ورکړل شي.

• په دې توګه د هیواد ټول وګړي پلټونکي او فعال ساتل کیږي.

• که د هیواد ټولو وګړو ته د کورنی دندو ورکولو امکانات نه وي کیدای شي د کلیو، ولسوالیو او ولایتونو په سطحه دغه کړنه ترسره کړو، دبیلګې په توګه یوې ولسوالی یا ولایت ته د طبیعي آفتونو څخه ساتنه او بلې ولسوالی یا ولایت ته د شخړو د حل په اړه موضوع ورکړل شي.

• په دې توګه کولای شو د ټول هیواد له فکر او نظریاتو څخه خبر شو او د ستونزو په حل کي ور څخه ګټه پورته کړو.

یوولسمه ماده: ټول دولتي مامورین چي په کومه برخه کي کار کوي په کلني توګه باید په هغه برخه کي کتاب ولولي.

• په دې کار سره ټول مامورین فعال او اپډیټ ساتل کیږي.

• په دې کار سره دولتي مامورین له پرمختګونو خبریږي.

• ددې کړني د ترسره کولو په موخه باید هر مامور ته کتاب ډالی شی او یا هم کتاب ورته واخیستل شي.

• د غم او ښادی په ټولو حکومتي پروګرامونو کي باید د کتاب نندارتون پرانیستل شي.

دوولسمه ماده: خبریالان او مصاحبه کوونکي باید له چاراواکو نه په هره مصاحبه کي یو یا دوه پوښتني د کتاب د مطالعي او دهغه د ارزښت په اړه وکړي او مسؤلین پرې نږدي چي عادي ځواب ووایي.

• د داسي پوښتنو په وړاندې کولو سره مسولین اړکیږي چي کتابونه ولولي او مطالعه وکړي.

• عام خلک کتاب لوستني ته اړ کیږي.

• په دې کار سره ټولني ته ښه انځور وړاندې کیږي.

دیارلسمه ماده: د اوس لپاره باید په کتاب، کاغذ، کتابتون او د کتابونو په ترانسپورت مالیه وا نه اخیستل شي او که اخیستل کیږي هم له زیاتي مهرباني باید کار واخیستل شوي.

• په دې کار سره د کتابونو اړوند کارونه په زیات شوق او ذوق سره مخ ته ځي.

• په دې کار سره په کتاب مناسب قیمت اینودل کیږي.

• ډیری خلک په دې برخه کي پانګه اچونه کوي.

څوارلسمه ماده: کتابتونونه باید د غیر درسي کتابونو امانت ورکولو سهولتونه رامنځ ته کړي او د ټاکلو پیسو په مقابل کي کتابونه خلکو ته امانت ورکړي.

• په دې کار سره خلک کولای شي زیات کتابونه به اساني سره ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• په دې برخه کې د کتاب څښتنان باید د امانت ورکولو ځانګړې شرایط کیږدي، دا کار دکتابتونونو د خاوندانو په ګټه دی ځکه کیدای شي یو کتاب ورته زیاته ګټه وکړي له دې لارې زیاتې پیسې تر لاسه کړي.

پینځلسمه ماده: لیکوالان باید د خپلو هیوادوالو د عامه پوهاوي په خاطر په خپل منځ کې ښې اړیکې را منځته کړي اود بهرنیو لیکوالانو سره تل د تجربو د انتقال لپاره په اړیکه کې وي.

• دا ماده ددې لپاره په دې طرحه کې ځای په ځای شوې چې ډیری لکیوالان مو د مختلفو ادرسونو له خوا په مختلفو ټولګیو ویشل شوي او د هیواد د ملي ګټو پر اساس ریښتینې لار نه تعقیب کوی.

• لیکوالانو ته باید د اړیکو وسایل لکه انترنیت، کریدیت، ساختمان، دفتر او ترانسپورت په وړیا ډول بې له کومې معاملې برابر شي.

شپاړسمه ماده: ټول هغه محصلین چې نورو هیوادونو ته د زده کړې په موخه ځي د ټولنې په عامه افکارو کې د غیر رسمي سفیرانو په توګه وپیژندل شي او د رسمي سفیرانو سره څنګ په څنګ دهغه هیوادنو فکرونه او تجربې په لیکلې توګه خپل هیواد ته انتقال کړي.

• دغه کړنې ته د ځانګړې بودیجه په نظر کې ونیول شي.

• په دې کار سره سفیران او محصلین فعال ساتل کیږي.

• کومې تجربې چې له دوی څخه تر لاسه کیږي باید د خلکو سره شریکې شي لکه ( معلم، تجار، کسب کار... او د ټولنې له نورو قشرونو سره).

اولسمه ماده: هره نجلی او هلک چې غواړي خپل ګډ ژوند پیل کړي باید د ګډ ژوند په اړه یو کتاب ولولي.

• اړوند کتاب باید د ژوند د ښو او بدو تجربو لرونکی وي.

• د نکاح د عقد پر مهال او یا هم له رسمی اورګانونو څخه د نکاح خط د اخیستلو پر مهال د کتاب د لوستلو پوښتنه حتماً وشي.

• دغه جوړې باید د خپل ګډ ژوند د پیل، وسط او د ژوند آخری ګډې تجربې چې دوی مناسبې بولي ولیکي.

• همدغه کورنی کله چې د اولاد خاوندان کیږي باید د اولادونو د تربیې په اړه یو کتاب ولولي او تر ډیره حده په هغه عمل وکړي.

اتلسمه ماده: ټول حاجیان چې د حج د مراسمو او یا هم کربلا زیارت کولو ته ځي لږ تر لږه پنځوس کتابونه باید د ډالی په توګه خپلو کلیوالو ته راوړي او توزیع یې کړي.

• دا کړنه ډیره په اسانی پلي کیږي.

• حاجي صاحبان دکلي ستونزو ته په کتو سره کولای شي کتابونه وټاکي او خلکو ته یې ورکړي.

نولسمه ماده: دغه طرحه د لویانو او مسؤلینو سپارښتنو ته په کتو سره د تغیر وړ ده خو نه پلي کیدل او د نه پلی کیدو په اړه یې شرایط په هیڅ وجه د منلو وړ نه دي. ددغه طرحې پلي کوونکي په ریښتینې توګه د ټولنې خدمت کوونکي شمیرل کیږي، او هغه کسان چې ددې طرحې د مخنیوي سبب کیږي تر ټولو بې مسؤلیته خلک به وي.

• یوازې ددې طرحې په اعلان سره به ډیری خلک له دغې طرحې حمایت وکړي.

• که مسؤلین دغه طرحه عملي نه کړي خپلو هیوادوالو ته به مراجعه وکړم او ددغه طرحې په عملي کولو او نشر کولو کې به ورنه مرسته وغواړم تر څو وکولای شو څومره چې کیږي دغه طرحه عملي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلمه ماده: ټول ښاريان او هيوادوال بايد د پيژندل شوو كتابونو ترځنګ يو يوكتاب د ډوډى، خوب، لوبو او ورزش، د ژوند لاړښوونو، لومړنى مرستو، د اوبو، برق، پيسو، وخت ... او نور د صرفه جويى ، د ښاري فرهنګ او نور چې شمير يې تر سلو زياتو كتابونو ته رسيږي ولولي.

• دغه كتابونه د هيواد د ليكوالانو له خوا بايد وليكل شي او يا هم وژباړل شي او د خپرندويو ټولنو په واسطه خپاره او چاپ شي.

• دغه كتابونه بايد په ټولنه كي د خلكو په منځ كي معتبر وبلل شي، د خلكو په منځ كي د غوره ډالى په توګه ومنل شي.

• ښاريان او هيوادوال بايد د امامانو، ښوونكو او استادانو له خوا د نوموړو كتابونو لوستني ته تشويق شي.

• د هيواد رسنى بايد د نومړو كتابونو د موضوعاتو په باره كي بحثونه وكړي.

د مطالعي او لوستني د ملي طرحي د شرايطو برابرول

له نيكه مرغه د كتاب لوستني د ملي طرحي لپاره ټول شرايط برابر دي او يا هم په ډيرو كمو هڅو برابريدلاى شي، د اوس لپاره منظم اداري سيستم، ډيرى باسواده خلک، ليكوالان، ژباړونكي، چاپ خوني، كتابتونونه، رسنى، كاغذ، قلم، او نوري ټولي سرچيني لرو چي كولاى شو ددغه طرحي په عملي كولو كي ورځځه ګټه پورته كړو، ددغي طرحي په پلي كولو سره كولاى شو نوى نسل په داسي ډول وروزو چي خپله لاره په خپله وټاكي او د پرديو افكارو تر اثر لاندې را نه شي ددې طرحي په پلي كولو سره راتلونكى نسل كولاى شي خپله لاره په خپله پيدا كړي او هغه زهر چي د پرديو له خوا د دوى په افكارو كي ګډيږي ترې مخنيوى وشي، نن ورځ په مونږ كي كمى شتون لري او پرديو ته مو موقع وركړې ده تر څو زمونږ د نوي نسل سرنوشت وټاكي، له دغه حالته د وتلو لپاره يوې طرحي ته اړتيا ده چي خلک زياتو معلوماتو او پوهي ته لاره ومومي، ددغي طرحي په پلي كولو سره كولاى شو راتلونكي نسل ته د كتاب او كتاب لوستني ارزښتونه منتقل كړو ځكه چي تر اوسه زمونږ ډيرى وګړي د پوهي ترلاسه كولو په موخه كتاب نه لولي بلكه د پيسو د لاسته راوړلو په موخه كتاب لولي او ډيرى كسان فكر كوي چي لوړ موقف ته رسيدل په پيسو او واسطه ترلاسه كيږي، نو ولي بايد كتاب ولولو دې حالت زمونږ عام خلک او محصلين له كتاب لوستلو زړه توري كړي دي.

په حقيقت كي د علم زده كړه او كتاب لوستل د پوهي ترلاسه كولو لپاره دي نه د پيسو پيدا كولو لپاره. زمونږ خلک بايد د پوهي او كتاب لوستني په اړه په خپل فكر كي ژور بدلون راولي او كتابونه د پوهي زياتولو په موخه ولولي نه د پيسو ګټلو لپاره.

د كتاب لوستني د ملي طرحي د پلي كولو پايلي

ددغي طرحي پلي كونكي اداري لپاره په لومړيو كي يو څه مادي مصارفو ته اړتيا ده خو له دريو كلونو وروسته اړونده اداره په يوه پرنفوذه او د مادي او معنوي توليداتو په سرچينه بدليږي اوټولو بنسټونو او خلكو ته يې لاندې ګټي رسيږي:

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدل د خلكو د عمومي پوهي د زياتيدو سبب كيږي.

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدل د خلكو د ستونزو د حل او روزني سبب كيږي.

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدل د هيواد والو د مغزي ودې او فعاليت سبب كيږي.

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدل د خلكو استدلال د پياوړتيا، د ستونزو حل او د خلكو د نوښتونو سبب كيږي.

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدل په خلكو كي د الزايمر (هيرېدني) او نورو مغزي ناروغيو د مخنيوي سبب كيږي.

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدل په ټولنه كي د وكړو د ځانګړو او ټولنيزو فعاليتونو د زياتيدو سبب كيږي.

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدل د ځان پيژندني سبب كيږي.

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدل د خداى(ج) پيژندني او د خلكو د معنوي پوهي د زياتوالي سبب كيږي.

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدل د ټولني د كلتوري ودې او پرمختګ سبب كيږي.

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدلو تر ټولو مهمه ګټه د خلكو د بيلابيلو نظرياتو رامنځ ته كيدل دي.

• د كتاب لوستني او مطالعي د ملي طرحي پلي كيدل د خلكو موخو ته د رسيدو سبب كيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلې کېدل خلکو ته د ژوند کولو هنر ورزده کوي.
- د کتاب لوستنې او مطالعې ملي طرحه له خلکو ښه ویندویان او غوره ناطقان جوړوي.
- د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلې کېدل د خلکو د اشتباهاتو د کمېدلو سبب کېږي.
- د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلې کېدل په خلکو کې په نفس د باور سبب کېږي.
- د کتاب لوستنې او مطالعې ملي طرحه پلې کېدل د نړۍ د ژورې پېژندنې او د بشريت د بشپړتيا سبب کېږي.
- د کتاب لوستنې او مطالعې د ملي طرحې پلې کېدل د هېواد په ادارو د فشار او بېرو بار د کموالي سبب کېږي.

و من الله توفيق

۱۰ / ۷ / ۱۴۰۰

**مرتب: م.ع. حسيني**

**د هر ډوله اسلامي ، فکري ، سياسي ، ادبي ، او ملظی کتابونو د تر لاسه کولو لپاره زمونږ کتابتون تعقيب کړئ.**

**حکمرانان کتابتون.** https://t.me/Azizafghn

**تاريخي داستانونه ناولونه:** https://t.me/saadafghn

**پښتو غږيز داستانونه**https://t.me/azizaafghn **:**

**ايمان پلورونکي.**

https://t.me/jauedafgha

https://t.me/kamram_afghn

https://t.me/Khanjanafghn

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**